# مطبوعاتي اعلاميه

## پر پاکستان استعماري ولکې ته د پای ټکی کېږدئ؛ د نبوت پر منهج د خلافت تاسیس د وخت اړتیا ده



د ډان لیک (Dawn Leak) پر سر د ملکي او نظامي مشرانو تر منځ اوسنۍ شخړې تاییدوي، چې په پاکستان کې به تر هغه کوم بنسټیز بدلون را نه شي، تر څو چې د امریکا متحده ایالتونو له ایتلاف او ملګرتیا لاس وانخلي. پر سره کرښه، د ملکي او نظامي چارواکو تر منځ شخړې به تر هغه دوام کوي چې د امریکا ستري ګټې په سیمه کې نه وي تامین شوي. دا هغه سره کرښه ده چې د پاکستان سیاسي برخلیک ټاکي، ځکه نظامي او ملکي مشرتابه له امریکا سره د نه پرېکېدونکي ملګرتیا ژمنه کړې.
واشنګټن د څېرو (چارواکو) د بدلون لپاره یوازې شین څراغ لګوي او پوهېږي چې وفادار غلام یې نور د خدمت کولو جوګه نه دی. ځکه نو تاریخ شاهد دی چې د نواز شریف روزل شوي مشرف د تاریخ کثافت دانۍ ته واچول. هغه مشرف چې په سیمه کې یې په زور د امریکا د پلانونو د پلي کېدو استازیتوب کاوه. بیا کله چې مشرف د امریکا لپاره د ګټور ځواک په توګه مطرح شو د امریکا له لورې د نوي استازي په توګه ځایناستی و ټاکل شو. اوس به هم نواز شریف تر هغه په قدرت کې پاتې وي، تر څو واشنګټن دا و انګېري چې دی له هندوستانه وړاندې پاکستان د کمزورتیا په لور بولی شي. د امریکا د نورو ښکېلاکګرو پروژو تر څنګ، تر څو چې پاکستان د ځنځیر د یوې کړۍ په توګه له امریکا سره تړلی وي، څېرې به بدلېږي؛ خو د زیان کارانو ښکېلاکګرې پالیسۍ به پرځای پاتې وي.
**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مخلصو امرانو!** حزب التحریر د «آزادۍ ګوند» دی او پر تاسو ږغ کوي، چې مسلمانان د دوامداره او پرله پسې ښکېلاګرې ولکې څخه وژغورئ. هو، د امریکا استازي نوازشریف پر وړاندې ستاسو زیاتېدونکې غوسه ښیي، چې ده د امریکا په امر نظامي رهبري دې ته اړ کړې، تر څو د دوی د ګټو د خوندیتوب لپاره پر سره کرښه تدابیر و نیسي. که څه هم، دا دهغه څه په پرتله ډېر کم دي، چې زموږ دین یې غوښتنه کوي او زموږ ځواکونه یې وړتیا لري. الله سبحانه و تعالی تاسو د ځمکې پر مخ له یوه پیاوړي او توان لرونکي ځواک څخه جوړ کړي یاست او لویه وسله مو پر الله او د هغه پر پېغمبر صلی الله علیه وسلم، ستاسو ایمان دی. تاسو د الله په وړاندې د امت د حالت د بدلون لپاره نه یوازې په پاکستان، اشغال شوي کشمیر او افغانستان کې له حساب سره مخ یاست؛ بلکې تر دې ور هاخوا په اشغال شوي مسجد الاقصی، شام، یمن، برما (میانمار) او ختیځ ترکستان (سینکیانګ) کې هم له حساب سره مخ یاست.
یوه شئ چې زموږ ګران رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوامداره توګه د اسلام د قیادت لپاره د نصرت په لټه کې و او په دغه لاره کې له غبرګونونو سره مخ او سختۍ یې ګاللې؛ تر هغې چې الله سبحانه و تعالی د انصارو د یوې کوچینۍ، مخلصې، زړورې او جنګیالۍ ډلې په وسیله کامیابي ور په برخه کړه.

حزب التحریر د خپل پیاوړي سیاستمدار او ژور فکره فقهي امیر «شیخ عطا بن خلیل ابو رشته» تر قیادت لاندې پر تاسو غږ کوي، چې د نبوت پر طریقه خلافت ته نصرت ورکړئ. داسې یو نصرت چې دښمنان په خپلو مېشتځایونو کې ولړزوي، د دوی پلانونه له خاورو سره خاورې کړي او له سره بیا ټول امت د یو نړیوال بدلوونکي ځواک په توګه سره یو موټی کړي، لکه څنګه چې د پېړیو راهیسې یې پر نړۍ حاکمیت کاوه.

**(إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ)** (آل عمران:۱۶۰)

*که د الله مرسته در سره وي، هېڅوک به درباندې برلاسي نه شي؛ که هغه مو خوار کړي، نو بیا به څوک ستاسو مرسته وکړي او مومنان باید یوازې پر الله توکل وکړي.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: PR17028**

**۱۴۳۸، د شعبان ۵ مه**

**۲۰۱۷، د مې ۲ مه**